# دَ دانئيل نبيِ کتاب

## اول باب

١ دَ يهوداه دَ بادشاه يهويقيم دَ بادشاهۍ په دريم کال دَ بابل بادشاه ١
بنوکدنضر اورشليم ته راغي او هغه يۍ گير کړ ٢ او خداوند دَ يهوداه ٢
بادشاه يهويقيم له څنو لوښو دَبيت الله سره يۍ دَ هغه په لاس
ورکړ ده هغه دَ سنعار په زمکه کښ دَ خپل معبود کور ته يووړل
او هغه لوښيِ يۍ دَ خپل معبود په خزانۍ کښ داخل کړل
٣ او بادشاه دَ خپلو خواجه سرايانو سردار اشپناز ته حکم وکړ ٣
چه دَ بنيِ اسرائيلو دَ بادشاه له اولاد نه او له اميرانو نه دِ يوڅو راحاضر
کړي ٤ هسي ځوانان چه عيب په کښ نه وِي بلکه ښائسته او په حکمت ٤
کښ ماهره او په هري خبري کښ پوه او صاحب دَ علم وِي اوچه په
بادشاهِي محل کښ دَ ودريدلو لايق وِي او هغوي ته دِ دَ کسديانو
علم او ژبي ورزده کړي شيِ ٥ او بادشاه هغوي لره له بادشاهِي خوراک ٥
نه او دَ خپل څښاک له شرابو نه دَ هري ورځي برخه مقرّره کړه په دي
شان يۍ هغوي تر دريو کالو پوري وپالل چه په آخر هغوي دَ بادشاه
په حضور ودريږي ٦ او دَ هغوي په منځ کښ له بنيِ يهوداه نه دانئيل ٦
او حنانياه او ميشائيل او عزرياه وُو ٧ او دَ خواجه سرايانو سردار له هغو ٧
نه په هر يوه باندِ نوم کيښود په دانئيل يۍ بلطشضر او په حنانياه يۍ
شدرک او په ميشائيل يۍ ميسک او په عزرياه يۍ عبدنجو
٨ ليکن دانئيل پخپل زړه کښ اراده وکړه چه خپل ځان به دَ ٨
بادشاهِي خوراکَ او دَ هغه دَ څښاک له شرابو نه ناپاک نه کړي او ده
دَ خواجه سرايانو سردار ته عرض وکړ چه خپل ځان ناپاک نه کړي ٩ او ٩
الله دانئيل ته دَ خواجه سرايانو دَ سردار په نظر کښ فضل او رحمت

و سوندل كا او دانيل دَ كورس بادشاه تر اول كال پوري وه ٭ ۲۱

# دويم باب

آ او دَ نبوكدنضر دَ بادشاهئ په دويم كال كښ نبوكدنضر خوبونه ۱
وليدل چه له هغه نه ئي روح و ترسيده او خوب ئي ورنه وتښتيده
ب نو بادشاه حكم وكړ چه نجوميان او جادوگران او فال اچونكي او ۲
كسديان دِ راوبللې شي چه دَ بادشاه خوبونه ور وښيي نو هغوي
راغلل او دَ بادشاه دَ وړاندِ و دريدل ج او بادشاه ورته وويل چه ۳
ما يو خوب ليدلې دئ او دَ هغه خوب دَ پيژندلو دَپارَ مِ روح ترسيږي
د نو كسديانو دَ بادشاه دَ وړاندِ په آرامي ژبي عرض وكړ چه اي ۴
بادشاه ته دِ تر ابدَ پوري ژوندي اوسي خپلو مريونو ته خوب وروښيه
نو مونږ به دَ هغه تعبير وكړو ه بادشاه په ځواب كښ كسديانو ته وويل ۵
چه دا خبره له ما نه تلي دَه كه تاسي خوب را په ياد نه كاندئ او تعبير
ئي ونه كړئ نو تاسي به ټكړي ټكړي كړي شئ او ستاسي كورونه به
چارچوبئ كړي شي و او كه خوب را ښكاره كړئ او تعبير ئي نو له ما نه ۶
به تاسي بخششونه او انعامونه او ډېر عزّت و مومئ دي دَپارَ خوب
را ښكاره كړئ او تعبير ئي ز هغوي بيا په ځواب كښ ورته وويل چه ۷
بادشاه دِ خپلو مريونو ته خوب ووائي نو مونږ به دَ هغه تعبير ښكاره
كړو ح بادشاه په ځواب كښ وويل چه زه په يقين سره پوهيږم چه ۸
تاسو له وقت فائده اخلئ ځكه چه تاسي وينئ چه دا خبره له ما نه
تلي دَه ط ليكن كه تاسي خوب را ښكاره نه كړئ نو ستاسو دَپارَ يو ۹
حكم دئ ځكه چه تاسي دَ دروغو او دَ بهانئ خبري جوړي كړي دِي
تا چه زما دَ وړاندِ خبري وكړئ تر هغه پوري چه وقت تير شي پس
خوب را وښيئ نو زه به پوه شم چه دَ هغه تعبير هم بيانولي شئ -
ي كسديانو بادشاه ته ځواب وركړ و ئي ويل چه په ټولي دنيا كښ خو ۱۰

